# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# سمسون د خدائ پاک طاقتور بنده




لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Lyn Doerksen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.




ډېره موده مخکښې په اسرائیل کښې منوحه نومې سړے اوسېدو. د هغوئ ښځې او خاوند بچی نۀ وو. يوه ورځ د خدائ پاک فرښته د منوحه ښځې ته ښکاره شوه. هغې ووئیل. چې ستا به یو زوئ وشی. او هغه به ډېر خاص وی.



هغې خپل خاوند ته دا عجیبه خبره وکړه. نو منوحه دعا وکړه، اے زما خدایه، ته مونږ ته دوباره خپل ځان ظاهر کړه. او چې مونږ له د دې ماشوم د پاره څهٔ هم کول وی نو مونږ ته هغه وښایه.



3

فرښتې منوحه ته ووئیل چې تاسو په د خپل زوئ ویښتهٔ نهٔ کل کوئ. او ورته یې وفرمائیل چې مے او شراب مهٔ څښه، او نهٔ چې څهٔ حرام خوراک وکړې. خدائ پاک دا ماشوم د قاضی په طور خوښ کړے دے. او هغه به د اسرائیلیانو مشر وی.





4



د خدائ پاک خلقو بنی اسرائیلو د مدد ضرورت وو. هغوئ د خپل ژوند نه خدائ پاک ویستلے وو، نو په دې وجه هغوئ د خپلو دشمنانو، او فلسطیانو په وجه زورلے شوی وو. خو چې کله هغوئ دعا وکړه نو خدائ پاک د هغوئ دعا واورېدله. نو هغهٔ یو ماشوم راولیږلو چې هغه به د دنیار د ټولو نه طاقتور سړے وی.

5

بیا هغه ښځې زوئ پیدا شو. او د په هغهٔ باندې یې سمسون نوم کېښودلو. او هغه ماشوم لوئ شو، او خدائ پاک هغهٔ له برکت وکړو. او د خدائ پاک روح په هغه کښې کار شروع کړو. او سمسون ډېر طاقتور شو. یوه ورځ هغه زمری سره مقابله وکړه او هغه یې مړ کړو.



6



بیا سمسون د شاتو د ګبین نه شات وخوړل، کوم چې د مړ زمری کښې وو. هغهٔ یو تپوس وکړو. چې د خوړونکی نه د خوراک څهٔ شے راوتلو. او د طاقتور ځیز څهٔ خوږ شے راووتلو.

7



څوک هم داسې نهٔ وو چې هغهٔ له یې د دې سخت سوال جواب ورکړے وو، خو د سمسون ښځې خپلو ملګرو ته د دې سوال مطلب ووئیلو. او په دې خبره باندې سمسون ډېر زیات غصه شو.

8

بیا سمسون فلسطیانو ته نور هم غصه شو. او د سمسون
ښځه هغه سړی له ورکړے شوه کوم چې په واده کښې د
هغهٔ د ټولو نه ښهٔ ملګرے وو. او هغهٔ د بدل اخستلو
منصوبه جوړه کړه.هغهٔ دا منصوبه څنګه جوړه کړه؟



9

د هر څهٔ نه مخکښې، سمسون درې سوه لومبړې
راونیولې. او بیا هغهٔ د دوو دوو لومبړو لکۍ په خپلو
کښې وتړلې، او د دې په غوټو کښې یې بل شوی
چراغونه کېښودل.



10

بیا سمسون هغه لومبړی د فلسطیانو د غنمو په پټو کښې
پرېښودې.



11

اوس فلسطیانو د هغهٔ نه بدل اخستل غوښتل. نو سمسون
خپل ځان هغوئ ته په حواله کړو. هغه یې وتړلو. او
فلسطیانو ته یې د ووژلو د پاره حواله کړو.



12

خو د خدائ پاک روح په هغهٔ
باندې نازل شو. او هغه هغه رسۍ
وشولولې په کومو باندې چې هغه
تړلے وو. بیا هغهٔ ته په هغه کښې
یوه تازه ژمنه ملاو شوه هغه
ورتیټ شو او راوه یې خستله. او
زر سړی پرې ووژل.



13

بیا فلسطیانو د هغه د نیولو د پاره منصوبه جوړه
کړه. او یوه شپه یې هغه په ښار کښې راګېر کړو او
د ښار ټولې دروازې یې بندې کړې. خو سمسون هغه
دروازې سره د چوکاټونو تالو سره اوچتې کړې او په خپله
اوږه باندې
یوړې.



14


خو بیا سمسون د خدائ نافرمانی وکړه. خدائ پاک تر هغې
پورې هغهٔ له طاقت ورکړے وو تر کومې پورې چې هغهٔ
د خدائ پاک خبره منله. یوه ورځ
سمسون د خپل طاقت راز د فلسطین
دلیلې ته ووئیلو چې جاسوسه وه.
هغې سره یو سړے وو. او چې کله
سمسون اودهٔ شو نو
هغهٔ د هغه سر
کل کړو.
15


نو کله چې سمسون د دلیلې په کوټه
کښې اودهٔ وو نو هغوئ په هغهٔ
باندې حمله وکړه. او سمسون
ډېر په مشکله هغوئ سره
جګړه وکړه. ځکه چې د
هغهٔ طاقت ختم شوے
وو. بیا هغوئ د هغهٔ نه
سترګې وباسلې.
16


ړوند سمسون د فلسطیانو غلام
شو. او هغوئ به هغهٔ پورې
ټوقې او خنداګانې کولې.
17


فلسطی بادشاهان راغونډ
شول چې جشن وکړی او
خپل خُدائ دجون ته یوه
لویه قربانی پیش کړی.
هغوئ ووئیل، "زمونږ خُدائ
مونږ له زمونږ په دشمن
سمسون باندې فتح راکړې
ده. او هغوئ خوشحالی کوله
او هغوئ ووئیل،" سمسون
راوغواړئ او راځئ چې په
هغهٔ پورې ټوقې وکړُو.
18


سمسون هغه هلک ته وفرمائیل چا چې لاس نیولے روان
کړے وو چې، "ما پرېږده چې په هغه ستنو باندې لاس
ولګوم چې په کومو باندې دا کور ولاړ دے. زهٔ په دې
باندې تکیه
لګول غواړم."
هغه ځائ د
ښځو او سړو
نه ډک وو.
19


پینځهٔ واړه فلستی بادشاهان هم هلته وُو او هلته په چت باندې
تقریباً درې زره ښځې او سړی وُو، هغوئ کتل چې په
سمسون پورې ټوقې کېدلې. په جیل کښې د سمسون وېښتهٔ بیا
وشول. او هغهٔ دا
دعا وغوښتله.
چې اے مالکه
خدایه، زهٔ تا ته
سوال کوم چې تهٔ
ما له یو ځل بیا
طاقت راکړه چې
زهٔ د دوئ نه د
20

نو آیا خدائ پاک به سمسون له
دوباره طاقت ورکړی؟ بلکل، نو
سمسون د هغه بت خانې ستونو له
دیکه ورکړه، او هغه بت خانه
په هغه ټولو خلقو او
پینځو بادشاهانو او
سمسون باندې
راوغورزیدله.



21

سمسون د خدائ پاک طاقتور بنده

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

قاضیان ١٣ - ١٦

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

22

# ختم شو

14

60

23

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایي.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ
ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

24